# وختونه او دردونه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د محمد الله رازق

د شعرونو مجموعه

۱۳۶۶ ـ جزا

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګورنیو چارو وزارت
دسیاسي چارو نوی ریاست
دخپرونو لوی آمریت
د آثارو د چاپولو څانګه

PROPERTY OF ARIC Established 1989

# وختونه او دردونه

د محمدالله رازق د شعرونو مجموعه

PROPERTY OF ACKU 7735

دسمو نیار عبدالقیوم حکیمزي په اهتمام

۱۳۶۶ ـ جوزا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیر : ٢٠٠٠ ټوکه
پرله پسی لمبر:١٤٦
دچاپ ځای :دولتی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| سر یزه | ۱ |
| ډاکتر که شاعر | ۳ |
| دشاعر له خوا | ٦ |
| دزړه در دونه | ۷ |
| ستړی و عدی | ۹ |
| انتظار | ۱۰ |
| بیخودی | ۱۱ |
| خیری گر یوان | ۱۳ |
| ځلمی ته | ۱۵ |
| یادونه | ۱٦ |
| داشنا غیږه | ۱۷ |
| الوتی رنگ | ۱۹ |
| غزل | ۲۰ |
| مور ته | ۲۱ |
| دخال او خط شاعر ته | ۲۲ |
| لوی آسمان ته | ۲۳ |
| لاله | ۲٤ |
| پلمی | ۲۵ |
| دخپلواکی ناوکی | ۲٦ |
| عشقه | ۲۷ |
| انقلابی خار ندوی | ۲۸ |
| دخپلواکی شهید | ۲۹ |
| ښکلا | ۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| حسنه | ۳۱ |
| هجره! | ۳۲ |
| پیغور | ۳۳ |
| دنشی گناه | ۳٤ |
| دافغان په نامه | ۳٥ |
| دمینی یاد | ۳٦ |
| دانقلاب سرود | ۳۷ |
| دهیواد ترا نه | ۳۹ |
| دانقلاب لاره | ٤۱ |
| دارمان سا قی ته | ٤۳ |
| وفا | ٤٥ |
| ځوا نی هیلی | ٤۷ |
| هوښیار جنون | ٤۹ |
| پسر لی ته | ٥۱ |
| حبیب | ٥۳ |
| دسولی ناوکی | ٥٥ |
| ښکلی اشنا | ٥۷ |
| الہا مو نه | ٥۹ |
| دوفالا پی | ٦۱ |
| غزل | ٦۳ |
| غزل | ٦٤ |
| دغزل پلاره! | ٦٥ |
| بیغله غزل | ٦٦ |
| وختو نه او در دو نه | ٦۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

زموږ د ټولنی د لرغونی ادب اوفرهنګ په سمسور بڼ کی هره ورځ نوی ګلان غوړیږی او تاندیغوټی ،دنویو وږمو سره یو ځای د نویو نویو نوښتونو په لورسرونه او چتوی او زموږ د ژوند د مختلیفو اړخونو د پر مختګ دلاری د کاروان او قافلی سره یو ځای په ورین تندی باندی خوځیږی او پرمخ درومی .

زموږ د ژوندی فرهنګ پدی ویاړلیو پړاو ونو کی خورا ستر ستر رسالتو نه پراته دی چی تاریخی بنسټونه لری او د دغه قاـ نونی تګلوری په هر ګام کی یی بی شماره ویاړونه په برخه شو یدی .

شعر د هنر دکورنی خورا ښکلی او وتلی غړی دی چی واقیعتونه او د چاپیر یال پیښی په خورا نازکو اوخاصو الفا ظو کی بیانو ی او انعکاس ورکوی .

شعر په خپل جوړ ښت ، ښکلا او الهام کی ځانګړی صفتونه لری په تیره بیا هغه شعر چی د زړونو د تل څخه راپور ته کیږی هرو مرو په زړونو کی ځای نیسی او زیات شمیر مینه وال مومی .

دلته د (وختونه او درد ونـــه )شعری مجموعی په باب خبری کوو، چی شاعر رښتیا هم د خپلی ټولنی د ځور یدلی انسان او د هغه د ژوند په باب هر اړخیز او ښکلی تصو یرونه وړاندی کړی دی .

دغه شعری مجموعه چی ګرا ن لوستونکی یی لولی دیوه ځـــوا ن

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر د شعر لومړنی تجربه ده چې په راتلو نکی کی به نوری تجربې تر
لاسه کړی او ډیر بریا لیتو بو نه به وگټی .

دغه مجموعه که څه هم دکمیت له پلوه کوچنی ده اود شعرو نو شمیر
یې دومره زیات نه دی ولی په کیفي لحاظ خورا بنکلی او غوره شعرو نه
یکی راټول شویدی چې زیات هنری ارز ښتونه لری اود انقلاب په دی
نسنیو شرا یطو کې به زمونږ د انقلابی ښارندو یانو د سوله غوښتو نکو
سنگرونو شور او ځوز لا زیات کړی اود دغی مجموعی چاپ د هیواد په
فرهنگی غنا کی یوه په زړه پوری زیاتونه بولو دکورنیو چارو وزارت
اود سیاسی چارو لوی ریاست دځوان شاعر داکتر محمد الله(رازق)
دغه کار او فرهنگی زیار ته په درنه سترگه گوری او لا زیات بریالیتو ـ
بونه ورته غواړی .

» » »

**دگر وال کریم سر باز**

**دسیاسی چارودلوی ریا ست مرستیال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډاکتر
# که
# شاعر

دیاردسپینی خو لی ثوا ب شو ترقیا دته معطل
دمینی خدایه رانه لری پیغورو نه نه‌کړی

لږه‌موده کیږی‌چی‌دځوان شاعرډاکترمحمد الله رازق سره پیژنم. اونږوخت‌کیږی چی دغه شعرونه‌یی لوستلی او یا اوریدلی دی . او اوس یی دشعرونو مجموعه زما پــه‌وړاندی پرته ده‌اوله‌ما څخه یی غوښتنه کړی چی څه‌پر ی و لیکم .

نودغه ضرورت په خاطر می بیا درازق شعرونه ولوستل او کــه ژوندباقی و بیابه یی همو لولم . خبری او بحثو نه به بری وکړو.

رازق دمسلك په‌لحاظد طب‌ډاکتردی‌داسی ډاکتر چی په‌سنگرونو کـی دټپرو زخمو نو ټکور شو یدی ا و داسی ډاکتر چی په‌سنگرو نو کی یی دژو ند ی پـــا تی کیـــدوپه خاطر ډیـــــر ی هلـــی ځـــلـــی کړیدی او لاالگیا دی کوی یی او ډیر امیدونه ورته ستر گی پـــه لاره دی.

له بلی خوا را زق‌ځوا ن او نوکاره شا عر دی خـــو در ا ز ق شعرو نه خپه زړونو ته خو شحا لـی‌اوتسلی و ر کو ی زه غـــوا ړ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دلته درازق په شاعرۍ خبري وکړم یعني دهغه دشعر او شاعرۍ په باب څه و لیکم: وایي چې شعر د شاعر د زړه آواز دی، شعر د شاعر هیله ده. او شعر د شاعر ارمان او د شاعر د فکرا و خیال نمایندګي کوي او بنه شعر نو بیا هغه شعر دی چې د شاعر د زړه د تل نه راوو زي او د لوستو نکو او بیا هم د شعر د مینه وا لو د زړه په تل کې ځای و نیسي. خو موږ او س دا حکم نه شو کولای چې د راز ق شعر د شعر د مینه وا لو په زړه کې څو مره ځای لري او دا پته لوستو نکو ته هغه وخت بنه لګیدلی شي چې د هغه شعر ولو لي.

رازق همدا او س دخپلې مینې لاری څاري ځکه چې هغه د مینې او وفا شاعر دی او دا لاری په دې خاطر څاري چې هغه خپل منزل ته ور سیږي او هغه څه چې دی یې لاری څاري را به شي او پخلا به شي او ضرور به راځي او ضرور به پخلا کیږي خو دا چې شاعر به تر کو مه وخته پورې دغه لاری څاري نو دا هم معلو مه نه ده خو دی باور لري چې راځي نو ځکه خو وایي چې:

لاری به یې څار مه او را به شي  بنیمو کې به یې لو یږ مه پخلا به شي

دا مې ګه و یلو نور یـــــې نه وا یم  مینې ته سجده کو م ګناه به شي

او له دې څخه داسې معلو میږي چې د شاعر په زړه کې د مینې اور بل دی او هیڅ یې په آرام نه پرېږي دی. داچې دده په زړه کې کومه مینه ده، آیا د خلکو سره مینه لري، د و طن سره مینه لري او که په خپله خاوره او د خپلې خاور ی په ځوریدلو او کړیدلو خلکو مین دی او که په حسن او بنا یست مین دی، خو په هر حال په زړه کې یې له ورایه یو درد او یوه مستنه شان جذ به په ټو پو نـــــو بنکاري.

او که د دې خبرو نه را تیر شو او د هغه د شعر او شا عر ی په بـــاب څه و وا یو نو د اخبره به ضرور کوو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه شاعري د وزن او د آهنګ له مخې نيمګړتياوې نه لري او
موزونه شاعري ده د هغه مسلك او شاعري دواړه د هغه
د اولس د پاره دي د خپل وطن د رنځېدلو او کړېدلو خلکو د پاره دي
او دا د هغه لومړنی شعري تجربه ده. او په لومړي ګام کې د داسې
يو ځوان شاعر نه لوړه هيله او طمعه بې ځايه ده.

رازق که نن شعروايي او شاعري کوي نو سبا به ضرور د هغه
شاعري زموږ د معاصري شاعرۍ د کاروان ملګرې کېږي او ځانګړو پر
مختګونو ته به ورسيږي او موږ د شاعر زياتو بريالیتوبونو ته
سترګې په لاره يو او د رازق نه د پښتو شعر د مينه وال لوی هيله
او ارزو هم دغه ده رازق که زموږ د نن ورځې نو کاره شاعر
دی نو زموږ دغه ځوان شاعر به د سبا ور ځې ښه، پوخ او وتلی شا-
عر وي او زموږ د شعر د بڼ يو غوړيدلی ګل به وي .

د رازق د شعر او د هغه په هنري نوښت ډيري او هراړخيزې خبرې
کيدای شي خو دلته نه ځايېږي خو له چاپ او خپريدو
وروسته به يې پرې خبرې وکړو د دغې مجموعې چاپ يو په زړه پورې
فرهنګي ګام دی او چاپ به يې زموږ د شعر ښکلی محفل لا ښکلی کړي
زه د رازق په شعر نورې خبرې نه کوم هر څه چې دي تاسې به يې
په خپله پکې ووينې داتاسې اودا هم د رازق د شعرونو لومړنی ډالی.

**په پښتنې مينه**
**افضل ټکور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دشاعر لەخوا

کله چې د خپلو شعر و نو پەباب‌له تا سو گرا نو لو ستو نکو او د شعر له مینەوالو سره خبری کول‌غوا ړم هغه څه می تر ستر گـــو گرزی اویاد ته راځی‌څه چې تر دی‌نن ورځې پور ی زما په شخصی‌ژوند کی اوڅه په اجتماعی لحا ظ زمو ږپه ځور ید لو خلکـــو با نـــد ی تیر شو ید ی داسمـــه خبــــــر ەده کله چې یوه ټو لنه د پیښنو او واقعا تو گرم میدان تەورگەشی‌او یا په بله ژبه پەخلکو کی د نـــو ی روح‌دپیدا کولواودنوی‌ژوندلارولټولوتەراپور ته شی نو طبعی خبره ده‌چی ددغو پیښنو او را ویښنید نوانعکا س‌او تصو یر تر هر چا ړ و مبی دټو- لنی د متعهد واو رسا لتمند وشاعرانو په غاړه لو یږ ی او تر هر چا زیات د مخکښنو شا عرا نو د پاملرنی‌وړ گرځی او د هغو ی داحسا سا تو نازکو پا ټو ته نو ی حر کت او نوی‌هیله او نوی مینه ور سپاری .

زموږ ننني شعر نو ی شعر د ی‌او که په هر قالب کی ویل شو یدی هرو مرو نو ی اړ خو نه او نو ی‌غو ښتنی له ځا نه سره لر ی.

زما دشعر دښکلا د خر نگوا لی‌په باب قضاوت له تا سو محترو مـو لو ستو نکو سرەدی ماو کولا ی‌شوخپل څو ټوټی شعرو نه د خپلـــی ځانگړ ی مینی له مخی ستا سو پـــەمخکی کیږ دم. اوددی سره یو ځای عرض کوم چی‌زه پخپل دی کار کی‌بریالیتوب تەدرسیدو د پاره ډیـــر وخت‌تەاړ لرم هیلەدەگران‌لوستونکی‌به زما دشعر دا کوچنی ډا لی دیوه سو غات په تو گه و منی .

دوکتور محمد الله (رازق)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دزړه دردونه

دیار قاصده چي را یاد مې تیر یا دو نه نه کـــړی
دسبا با ده چي رســــوا مې ا رما نو نه نه کـــړ ی
دویرا نی زړه کی د خوب تعبیر مې و نه وا یــــی
له بی پروا جنون نه الر ی زنځیــــــــرو نه نه کړ ی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ورانی مینی نه به خه پرمات قلم و لیکـــــــم
گوره آشنا ته مې ښکاره دز ړه دردو نه نه کـــړی
دیار دسپینی خو لی ثواب شو تر قیا مته معطـــــل
د میـــنی خدا یه را نـــه لری پیغو رونه نه کـړ ی
دښکلی یاد نیشه می مــــه بایله په میو با نـــدی
سا قی چی ما ته را نږدی دا سره جا مو نه نه کـړ ی
که‌رقیبان می‌و ینی خښی ورنه پوښتلی نه شـــــم
په‌سره کفن کی می رالوڅ سره پرها رو نه نه کـړی
زه داز ل له نصیبو نــــه بی نصیبه را غلـــــم
چی پس له مر گه می خفه بیا نصیبو نه نه کـړ ی

**زرمت ۷ر۲ر ۱۳٦٥**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د استاد حمزه دیوی غزلی په الهام :**

# ستړې وعدې

ستر گی شوی لمدی خو ژړیدو ته می پری نه ښودی
او ښکی غیرتی وی تو ییدو ته می پری نه ښودی
زلفی یی و یدی وی د کمځیـــو په لو نو کی
هر تار یی خمارو و ینبید و ته می پری نه ښودی
څنگ ته یی نږدی شوم په نازکو اداگانو کی
مینه خاطری شوی هیر یدو ته می پری نه ښودی
بیامی له نازکو شونډو واخیستل لوزونه نن
بیرته په شاتلی خو ستنیدو ته می پری نه ښودی
سترې لویه لار په پاڅیدو او پرزیدو شو له
سترې شوی وعدی خو پریښودو ته می پری نه ښودی

**کابل ۲۰ر۱۰ر۱۳۶۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انتظار

لاری به یی خار مه او را بــــه شی
پښو کی به یی لوین مه پخلا به شی
سترگی که حیا ځینی بیلین ی نــه
زړه کی به یی ځای کړ مه زما به شی
او ښکی دغیر ت نه ټیټید لــی نــه
رنگ ته به می و گور ی آشنا به شی
داسوی اسر ی دپسر لو نــه دی
نه چی دا گلو نه کم بها بــه شی
دامی که و یلو نور یی نــــه وایم
مینی ته سجده کوم گناه بــه شی

دپنجشیر دره ۲ر٤ر۱۳٦۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیخودی

څه رابانډی و شو په اســـــرو سرشوم
ولی په دی لارو او کو څو سرشوم
څو ځلی یی دام کی کړ ید لـــــی وم
بیا دناز نینی په کمڅو ســـــــر شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته می پیاله کړه او نیشـــه شومه
وړ دسو ځیدو وم په لمبو سر شو م
او ښکو راته سترګو کی ګیلـه وکړه
ماور ته خندلو ، په ګیلو ســر شوم
دلته ای تقدیره افسا نه د ی کړم
زه په خوارو زارو ا میدو سر شوم
حسنه !زه په تا پسی را غلــی وم
ګوره دا نصیب می په کعبـو سرشوم
ژو نده !بیخود یو کی می پــټ ساته
دلته خو په ډ یرو نا کر د و سرشوم

کابل ۲۵ر۱۰ر۱۳٦۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خيږی ګريوان

ګلی نا حقه تو متوو سو مه
دغو بيکاره نصيبو و سو مه
کله دی ما ته خنداو نه کړ له
دا ډيرو ډيرو منتو و سو مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا خو اول کی راته‌نه‌وو ویلی
زه دی داسر په سرغمووسومه
زړه می هم درکړلو، بدله شولی
اوس پښتنو کی پیغوروسومه
خدایه دا مینه راته څه را کوی
دسوی زړه سو یو لمبو وسومه
ظاهر ته مه گوره چی‌ته‌می‌وینی
خدایږو په‌پټه‌خوله زخمووسومه
قسمته جارشوی له‌جنونه ځینی
تقدیر په خیرو گریوانو وسومه

دپنجشیر دره ۲ر٤ر ۱۳٦۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلمی ته

توره او غیرت می دپلرو سا ته
شان او دبدبه می دشملوسا ته
گوره چې له یاده یې ونه باسې
ویاړ مې دځلا نده تاریخو ساته
یوزره وطن نه مې چې تیر نشي
یاد مې په هرځا ی که دا برو ساته
هلته چې دننگ څخه قصي کیږي
دود مې دپتمنو پښتنو سا ته
تاته مې اسره ده در لو گـــــی شمه
نوم مې دتاریخ د میړ نو ساته

زر مت ۱۲ر۷ر۱۳۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادونه

سترگو کی خو بونه په ما تیر شو لو
ښکلی یی یادونه په ما تیـــــر شولو
خو به ته‌ویده وی تر ښیـــــو لاند ی
دغه شا ن و ختونه په ما تیـر شولو
گرانه ! تصور کی رانه ورک شو لی
خو مره ناتارونه په ما تیـــــر شولو
دلته دناز کو ، پیغلتـــــو ب سره
بیا هغه لوزونه په ما تیر شولو
گر مو خندا گانو محفلو نـــــو کـــی
ډیرو منتو نه په ما تیـــــر شولو

جدی ۱۳٦۵ نجرا ب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دایران دتودی ګوند د هغــــو مبارزینو پهیاد چی له هیواد نه د باندی دتبعیدور ځی تیروی**

# داشناغیږه

مه می ګر موه خپلـــــو وعدو سره در ځـــــم
ډیر یم څو ریډ لـــــی د در دو سره در ځـــــم
لاره که او ږده ده پـــر وا نـــــه کـــو ی
ورکه به یی نه کـــړم ا میدو سره در ځـــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبه خاندی ماته ژړا گانی به دی وا خلمـــــه
حسن نه دی جار شـــم له اسرو سره در ځـــم
لری له تانه یم یی زمـــا سرء دزړه کور کـــی
مات به زولانه کـــړم پیو ندو سره در ځـــم
توره شپه به تیره شنـــی سبا ایساریدی نه شی
هلته به می وینـــــــی قافلو سره در ځـــم
مځکه او آسمان موبیلولو ته عاجـــزه شـــول
که ستر گی می ړنـــدی شوی تپیدو سره در ځم

زرمت ۱ر۱ر۱۳۵٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الوتي رنگ

ما نه د دردو او د اسرو پوښتنه څه کوې
سوی ایره زړه کې داورو پوښتنه څه کوې
سترگې مې ړندې شوې خــــو تپوس نه کړې
نور راځینې یار ه د رنگو پوښتنه څه کوې
بیا به دساقي په سل ستو نو باور ونه کړم
ړنگه میکده کې د خمو پوښتنه څه کوې
حسنه ته له ما ځینې لا څــــه غواړې
غیره دجنون کې د پښتو پوښتنه څه کوې
هجره نو رمې خو نه دځو ریدو څه دې
زما الوتي رنگ کې دسپر لــو پوښتنه څه کوې

کابل ۱۰ر۱۰ر۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

زړه مې کهراوسپړ ی دنیا تهبهغزله شي
څه اله ناکردو غوا ړ م و فا تهبهغز له شي
پیغله دسبا ده پهزانګو کېږي سا تمه زه
لویهبهیږو خت کړی او آشنا ته به غزله شي
ماپه سل ستو نو او کتو کې میلمنه کړاله
ځان مې ورنه جار کړلو چې ماته به غزله شي
دازخمي زړ ګی به مې پهمینهکی هیڅ جوړ نهشي
ښه شو چې ستي شولو اداتهبهغزلهشي
څهو کړم د مست جنو نالهسویو فریادو سره
ننکه غزل نهو ی نو سبا ته بهغزله شي

**کابل ۲۰ر۱۰ر۱۳٦٥**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسنگر نه‌لیك

# مورته

بیرته راگرځمه‌خوپاتی دی‌وختونه‌موری
اوس می نو پرین ده‌چی‌تاو ده شول سنګرونه موری
دعقید ی دسرو جا مو نو تنده‌ماته‌نه ده
په هر یوزړه کی انبار شوی فریادونه موری
داد ارما نپه غشی سوی زړه آرام می‌نه‌کړی
بیامی ګوګل کی انبار شوی انګارونه موری
پرین ده‌زما په‌و ینو نګ شی دنبا یست ګلونه
لادو طن په‌زړه کی ډیر دی ارما نونه موری

کابل ۱۲ر۳ر۱۳۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخال او خط
# شاعر ته

دخال او خط شاعره وشر میږه
ښکلی اسری په‌ناکسانو ږ د ی
داد ښایست ناوکی چاته‌پرېږ دی
شنه‌شنه خالونه په بتانو ږ د ی

زرمت ۱۲ر۲ر۱۳۵۹

# لوی آسمان ته

PROPERTY OF ACKU 7735

ستاد نا کردو حساب می ونیوه
پټه خوله می نوره چوپیدای نشی
قهراو غصی دی را له مه راوړه
زمازړه کی آرزوخوور کیدای نشی
ستوری او سپوږمی دی عبادت کوی
داواړه خدایان درځینی تلای نشی
زه درسره څه وکړم او څه غوا ړی
دی سرکی پښتوده ټیټیدای نشی

ننګرهار ۱۵ر۱۱ر۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لاله

گردجهان په ښکلو ښکلی ښایسته شو
خو زما په‌و ینو سور زما وطن شو
پانې پانې فریادونه می تر غوږ شوه
نازنین دانقلاب په سره کفن شو
ددښمن دسترگو خار شوم سر ترپایه
چې لاله دانقلاب زما په تن شو

**کابل ۲ر۱ر۶۴**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلمې

جارله شرابې زړه چې ستـــې شولو آ هو نو کې
او ښکې راته خاندې دپلمو پــه فریادو نو کې
شونډې که رابولم توری سترګې یې آزار نشی
خوندکوی شراب چې لا زړه شولو خمو نو کې
عینه چې رسوا شوه د حیاپه لمن پریوتم
جارد ی شم جنو نه ددنیا پــه دوزخو نو کې
نوربه دزخمو په سر زخمو نه آرام نه کړمه
بریږده روڼې او ښکې چې الوان شي سیلابو نو کې

**زید آباد ـ لوګر ۲ر۸ر۶۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخپلواکی ناوکی

مست دشرا بی زړه هوسونو کـــــی
خوارو زارو خلکو تار یخــو نو کــی
الوی هیواد په زړه کی ئو ی هیله وه
غیږ درسا لت کی ار مـــــانو نو کی
ستره ارا ده په خو ځـــیدو کی وه
ژمنه د بی باکه تو فـــــانو نو کی
ځمکی او آسمان ته نـــو ی زیری‌وه
خواست د زیار ایستو نکـــو پ‌ه‌رزمو نو‌کی
داد آزاد ی ناو ی به بنکلی شی
ثور انقلاب په نو بنتو نـــو کـــی

دنجراب و لسوا لی ۹ر٦ر١٣٦٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عشقه!

تورې زلفې دې چې تاو شوې پر تربله
دښامار په څېر نیول یې آسان نه‌دی
داسرې شونډې دې چې مستې په موسکاشي
په غابښو کې څوروول یې آسان نه دی
دارخسار دې چې دعشق اورکې خوټېږي
په خنداکې غولول یې آسان نه‌دی
که داشعرمې دعشق له‌بنده‌خلاص کړم
حماسو ته خوځول یې آسان نه‌دی

دلوګر زېډآباد ۲ر۸ر۱۳۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انقلابي څارندوی

ستره اراده دزمانی له زړه او چته شوه
مسته قافله دزلزلی له زړه او چته شوه
مینه دانسان کی سو ځید لی پر غصه شولو
نوی افسانه دیارانی له زړه او چته شوه
ډیره هوسنا که هندو کش زړه کی نڅا شوله
لویه خزانه دسر دری له زړه اوچته شوه
ختمه حوصله شوه قهرما ندزړه رازونوکی
ښکلی ناوکی دکنډوالی له زړه او چته شوه

۲ر۲ر۱۳٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخپلواکی شهید،

هر یوتور ی دآشنا په یــــاد لیکمه
زخمی زړه می په با نــــــــو آرا مو مه
دا هر آه مــــی چی ګوګل ځینی را خیږی
ټول به هیر کړم نه چی تا بـــه هیرومه
که سرو وینو دی خندا کړ لــه کفن کی
سر بهور کړ مه خو تا نـــــه ور کومه
تر قیا مته به دی لوړ بو لم ته لوړی
خا طری به دی خواږ ه زړه کی ساتمه
دوطن زره زره می په تـــــا ویاړ ی
ښکلی یاد دتار یخو بـــه دی ستایمه

کابل ۱۹ر ۸ر ۱۳٦٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلا

ډیری ښکلا گانې مې ترسترگو شوې
ته خود ښکلا په سر ښکـــــلا شو لې
خیال‌مې دښهو په سر و یده شولو
ته‌چې دې آشنا ته په خنــــدا شولې
سترې آرزو گا نې مې زړا ویښې شوې
هلته دپردو منځ کې و فـــــا شو لې
هیر مې کړل غمو نه رڼا ور ځ شوله
ته‌چې سره پالنگ کې هو یــدا شو لې
نور د بل طبیب لا سو نه نـــه نیسم
سر په‌سر ز خمو له مې د وا شو لې

**کابل ۲۹ر۸ر۱۳۶۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسنه!

حسنه! دبې صبره ارما نو په لاره راغلمه
ښکلې تخيل کې د اسرو په لاره راغلمه
ژمنه يې د خولې چې نن او ږده شوله
ځکه حياناکې درا تلو په لاره راغلمه
او ښکې په ګريوا ن کې دتعظيم په دود
خنګ ته دې آشنا زه دلمبو په لاره راغلمه
زور دبې هو شيو چې هوښيار يې کړم
ځکه پر کعبه د ميخا نو په لاره راغلمه
نور به ژر چاپيره نرې لو ګـې شمه
زه دآشنا غير ته د اورو په لاره راغلمه

۱۰ر۱۰ر۱۳٦۵ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هجره!

هجره‌نور مې پرېږده له آشنــا سره مې پرېږده
مل دې یم جنو نه له ساراسره‌مې پرېږده
او ښکې په ګریوا ن زما دژ ړ ه‌دتسلی په خیر
صبر رانه واخله له ژړا سره‌مې پرېږده
سلام دیار دزلفو چې‌د خیا ل به‌څهو راغی
ښکلی تخیـل‌کې‌اله‌سباسره مې پرېږده
عشقه ماپناه راوړه د څــــــا ن وسوځیدلو ته
پښو کې‌به دې لوېږ مه له‌تاسره مې پرېږده
زه چې بت‌خانه کې دآشنا پښو ته ټیټ شومه
نور دخدای دپاره دې خطا سره مې پرېږده

کابل ۲ر۲ر۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیغور

یوځلی خو یاره په ګیلو کــــی راته ووایه
داکه آ سان نه وی په کتو کی راته ووایه
زه دی ددیدن‌له پیمانی ولی‌خبرنه کړم
زماد سوا ل ځواب خو په ښو کی‌راته ووایه
زړه می چی داستا شو دی‌ګناه‌باند ی می مه نیسه
حال دز خمی زړه په خند یدوکی راته ووایه
حسن ته دی ووایه که زما نــه شوی
بیانو پیغورونه پښتنو کی راته ووایه

۲ر۱ر۱۳٦۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نشې گناه

زړه مې اسو يلوکي له خندانه نا خبره شو
عشق په ليو نتوب کي له ژړا نه نا خبره شو
او ښکې بهيدې تيرو شيبو پــــه ياد
حسن په ښکلا کي له آشنا نه نا خبره شو
راغلم دسا قي دمنتو په کــو ر ميلمه شومه
عقل مې دې لاره کي له مانه ناخبره شو
تشو تشو لاپو لا بې صبـــــره کړم
تږې د جام ست کي له دنيا نه نا خبره شو
شيخه زه نيشه يم غر ض مـــه کوه
غرق په پاکه مينه کي هرخوا نه نا خبره شو

**بگرام ۱۲ر۱۰ر۱۳٦۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغان په نامه

په‌نیمه خوا ژو ند کی سیځلی لوی انسان په‌نامه
په ناخوالی کی ځو رید لی ستر ارمان په‌نامه
له هر تقدیر نه تښتید لی بـی نصیبه آرزو
دتیرو وږو تږو ور ځو دجانا ن په‌نامه
چی دو ختو لو ړو ژوړوځوړو لی وی ډیر
دمرگ په خو له کی زړه سا تلی قهرما ن په‌نا مه
داد غیر ت شمله چی ټیټه تـر قیا مته‌نشی
زمادخاور ی هره لویشت کی‌هر افغا ن په‌نا مه
زه به تر مرگه آرام نه‌کښینم آشنابه ستایم
وطنه تابه ستایم ، وطنه تا به‌ستایم

۱۰ر۲ر۱۳۵۸ بغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمیني یاد

مه خیبړه سپوږ می دا توره شپه ښه ده
غلی به خوله وا خلم مینه غلـه ښه ده
او ښکلي دي بهیږ ی پروا نـــه کوي
خوند کوي همدا سي یا را نـــه ښه ده
دښت او بیابان کي دزړه و ینـــي خورم
سو یو فریادو له و یرا نـــــه ښه ده
نوره نو خو دي را ښني لر ی کړه
مینه کي جنون لره سجـــــده ښه ده
ډك زړه به داور په منځ کي هیر کړمه
پریږده چي سو زیږ ی نزرا نه ښه ده

**پروا ن    ۲ر۵ر۱۳۶۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انقلاب سرود

یوانسا ن دبل انسا ن په ویاړ هڅیږ ی
یو ارما ن دبل ارما ن په‌ویا ړ مستیږی
لوی سیلاب دستر تو فا ن پــه قافلو کی
رنځیدلی له هر خوا نه ر ا تــو لیږ ی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دچابیل دچا قلم دچا کلنگــــك دی
لــیو نی د یا را نــی کـــله پرځیږی
په هر رنګ او هر هیواد او هر چمن کی
سره لاله دانقلاب ر ا و لا ړ یـــږی
قر با نی د دی سپیځلــــــــو ارما نو نو
داکتو بر په آسمان کی ر ا ځلیږی
تفکر ددی کاروا ن په دی منزل کـــی
ابتکار دوا قعیت تر ی پیــــدا کیږ ی
کا میابی درسالت په غیږ کـــی خاندی
داپیغام له زخمی زړه نه ر ا خوځیږی
یوله بل و یل کو ل ور ســره سم‌دی
داسرود دانقلاب د لتـــــــه غږیږی

**۷ر۲ر۱۳۶۲ کابل پو هنتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دهیواد ترانه

څه که مور دزو ی دو ینو په غوغا شوه
لویه لار دارما نو نو خو رڼـــــا شوه
د هیواد ترانه لوړ ه له پا میر شوه
افسانه دهندو کش زړه کــــــی رسواشوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزادي اوانقلاب غاړه تــــــر غاړه
ددې ستری قافلی د ژو ند سبا شوه
زمانه نن په حیرانو ستر گـــو گوری
خو شالی چی زیار ایستو نکوته وړیاشوه
گردو یاړونه پر میړا نه با ند ی چورلی
ورو ستنی ژ منه شهیدالره وفـا شوه
سور ایمان د مبارز د لا ر ی توره
پیمانه دد ی رازو نو برا لا شوه
سو له دو ست دجنگیا لیو پـه سنگر کی
معجزه دغور ځنگو نو په رښتیا شوه
دښمنا ن له خپلی ماتی نه خبـر شول
کا میابی دقوتونو را په خــوا شوه
دوطن بچی قربان له انقــلا ب شو
مسته لار د غور ځنگو نو پــه ځلاشوه

**۲ر۲ر۱۳۶۲ کابل پو هنتو ن**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دانقلاب لاره

۱

مسته د میړانی او رزمو نـــــــولار
تکه سره د ښکلو ار ما نو نو لار
ښکلیو شهیدا نو د امیـــــــدجوړه
داد نو یو نو یو غوړ څنګو نــولار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن خود پخوا نه لا او چتـــــــه شوه
داد خو شحال خا ن د غیر تو نو لار
زړه می د دښمن پکی چاو د لی دی
لویه ، آزاد ی دسرو گلو نـــــو لار
تل دسر په بیه سا تل شـــــوی ده
داد شهیدا نو د ننگو نـــــــــو لار
بیا چی له یو ی مخی لا ســـــــره شواله
داد انقلاب د نو ښتو نـــــــــو لار

زر مت ۱۳۵۷ر۲ر۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دارمان ساقی ته

زه به ستا پر نوم هوس دورځوشپو کړم
دازخمی زړه به آرام په تپید وکړم
توره شپه کی به دی ښار مهره‌خواکی
انتظار به ستاد نوم د او ریدوکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پیدانه شوی دگرد جهان په مخ کی
بیا آسمان ته به تلاش دجگیدو کړم

له هر زړه به د خپل زړه دردونه غواړم
څو آخر دلاری سر په ختمیدو کړم

هر مین به دخپل زړه په ویراخته کړم
گداگر زړه به محکوم په کړیدو کړم

تول وجود به می له خاورو سره یوشی
لا به کله ارا ده دستنیـــــــد و کړم

که تن نه وزوح می مه پریږده آرامه
چارله مینی چی یی وړدسوځیدو کړم

**۱۲ر۶ر۱۳۶۵ چاریکار**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وفا

یار په یاری کی وار خطاو لی‌شی
که زړه بایللی وی په شاو لـــی‌شی
کور او کوڅه کی ر سوا شو ی‌دی بیا
لهورانی مینی نه جدا و لـــــــی‌شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس به دیار په غاړه ټینګـــــــك ونیسی
نور د دوعا دو عا ملاو لــــــــــی شی
ټول غمازان به پری غصه کړ ی همیش
کافر د مینی نو پخلا و لــــــــی شی
څو دسرو شو نډو لاره‌و نه نیســــی
د مسیحا دا رو د وا و لــــــی شی
سترګی دزړه په و یر ړ ند ی غواړ مه
خو مینه زما شوه دبل چـــــــاولی شی

زر مت ۸ر۷ر۱۳۵٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانی هیلی

زه مین یم دانسان دآرما نو نو
بیانګر دشهیدانو د در دو نو
دوطن او آزادی په‌نا مه لو ی‌شوم
زه څپه دانقلاب د توفا نو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکا می او مر گ یی نشته چی ازل کی
زه لیوال ددی خپا نـــــــــده بهیرولو
خونخوارا ن دگرد جها ن چی ورته یو شول
زه سپا هی ددی پیکار د سنگرو نو
محبت می خپله ژو نده شخــــه زده کړ
چی یی لوی کړ مه کو چنی پـــه کړاوو نو
زما مینه کی غر ض او ر یـــا نشته
ماتوم زه خو لنی د تقد یرونو
پریږده سر کړم افسا نی له ځوانی مینی
چی رښتیا شی حقا یق د تقد بیرونو

۲۹ر۱ر۱۳٦۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوښيار جنون

ټول عالم خبرشو ما و نه ليده
غرو نه لر او بر شوه ما ونه ليده
چيري به يي غواړه مه له چا ځيني
ټول ځان مي پر هر شو ماو نه ليده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پوری به او بنکی پاکو مـه زه
هر غم په ماسر شو ماو نــــه لیده
چیری چی چاو یلی پســــــی ورغلم
خدایه څه محشر شو ماو نــه لیده
اوس در قیبا نو د پیغـــــور شومه
ژو ند خو می ابتر شو ما و نه لیده
عقله ته قربا ن شی له جنـو ن ځینی
ستا په ما اثرشو ماو نــــه لیده

**کابل پو هنتو ن ۱۲ر۲ر۱۳۶۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پسرلی ته

غږ مي تر غوږو ستا د را تلـــو شو دی
زړه مي په سجده د دي بنکلا لــو شو لو
کله به را ځی قسمته ووا یـــــه
سترګ ی می فر یا د په اسو یلو شو لو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاراته په شو نه‌و خندا و نـــه ګړه
نه می خدا یه سوا ل دقبلید و شو لو
ډیرو می په خیری ګر یـــوا ن وخندل
دا عجیب تقد یر دبیا با نــو شولو
ډیرو ته می و ژ ړ ل لــــــــه ډیرو نه
حال می لا بتر په ژ ړ یـــــدو شو او
بنه شو چی آشنا په خپلـــــــه ولیدم
داتږی آرمان می په و تو شو لو

**دپنجشیر دره ۱۳ر٤ر ۱۳٦۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دافغانستان دموکراتیک جمهوریت اتـــل لومړی ښارن شهید سیـــد حبیب ته !**

# حبیب

دپاکی مور لمن کی د آ رزو حبیب
د غــــــــه د سبــاد ا مید و حبیب
لوی شو دتاریخ په غیږ کــــــی وځوځید
ښکلو د ښکلا د انګـــــــــــــو حبیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

توره شپه کی پا څیده سبـــا **پسی**
خوار او لس د نو یو ترا نـــو **حبیب**
تورو تورو شپو ځینـــــــــی **راوو ته**
هغه سو ځید لی پـــــه او زو **حبیب**
ژر دزسالت په غیږ کــــــی **پریو تو**
داد خوا رو زا رو د اســــرو **حبیب**
سم دانقلاب په ننگه پور تــــه **شو**
داد ځو ريد لو د خوا ستـــو **حبیب**
مږ شو خو اتل شو لو ی انسان **شو لو**
دغه دلوگر د بیرا نـــــــــو **حبیب**
ځان اود میر منی ژو ند نـــــه **تیر شولو**
داد سره لښکر د حما ســــو حبیب

**کابل ۱۰ر۹ر۱۳٦٥**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسولی ناوکی

وښنیده سپر لیه ناز نین ګلان
دلته ناوکی به دوسیدو شو له
راشه ای ساقی دغه انګړ لره
بیاد ناز پری به وینبیدو شوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاته یې حیانه چې کتلو ، نه
اوس زاته سر تا جه د شملوشوله
چیر ی چې قدم ږدی د لیمو په سر
هلته توره شپه په ستنیدو شوله
ته چې یې خفه پکې نووخاندم
لار د سباوون په لنډیدوشوله
څه : د زخمې زړه زخمو نه مه‌شماره
نور مې سره غیږ په ګر میدوشوله
حسنه ! دآشنا په لمن پریوتم
بیا مې غمشر یکه په درد وشوله

۱۸ـ ۱۲ـ ۱۳٦٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا چی ګلو نه په کمخو کـی نه وی
خوند به هیڅکله په سپرلو کی نه‌وی

((آرمانی))

# ښکلی آشنا

ښکلی آشنا چی می کو خـو کی نه وی
نور به آثر په لیو نو کی نه‌وی
ساقی پیاله دی یا خالی را کړه
یا به مزه پدی پیالو کی نه‌وی
زاهده نه یی چی له خانه وایی
دابه د خدای په کتا بوکی نـــه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربله پام کوه خزان یی نــــه کړی
بیا به دا گل یه پسر لو کی نه وی
گوره دا زړه دی نــــه آزاده کړ لو
نور به بیا زړو نه په سینو کی نه وی
که دامین زړه په اورو نه سوزی
نو هیڅ تاثیر به دوز خو کــی نه وی

۲ر ۱۲ر ۱۳۱۵ خیر خانه مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الهامونه

ای دسباوون باده را څـــــه‌را ځـــــه
**تاته امیدونه به دروږ مه‌زه**
غاړه کی امیل زماد یار که‌شوی
هلته نو گلونه به دروږ مـــه‌زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوره ژړه یدلی گل آزار نـــه کړی
زړه کی می عذرو نه به درو ړمه زه
زلفی د آشنا می شوروه پـــه ناز
نوی پیغامونه به در وړمه زه
ژر شه بدرگه کړه دا خمـــار مین
تاته امیلونه به درو ړ مـــــه زه
راشه تخیل می پانی پانی کړه
دا ښکلی یادو نه به دروړ مـه زه
قبر ته می خانده سپیروخاوروته
ډیر ډیر الهامو نه به دروړ مـه زه

۱۱/۴ر۶۵ د لوگر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوفالاپی

زړه مې راته ویلو په ماڅه وشو
یار مې ستنیدلو پهٔما څه وشو
سهار نه ترما نبامه انتظـــــارګوره
یار را ځینی تللو په ما څـــــهٔوشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به سلامت کړم اجلی نظـر
اوز سی نازولو به ما خه وشو
خدایه لیونی جنون دی وا خله‌پسس
ماته یې خندلو په ما خه وشو
عشق کی خو نازونه وی بـــی‌شماره تل
ما حسا بولو یه ما خه وشو
څوك له نبایسته ووفانه غواړی
سخت می ازمویلو په ماخـــــه‌وشو

۱۲ر ۱۰ ر ۱۳٦۵ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

سپرلی ناوخته شو و عــدووخوږم
خوشالی لاړلی غمو وخوږ م
د کبر جنو سترگو حال نـــه‌وایم
زه یی کتو هم ناکتو وخوږم
په ځان مغرور غروره ویـــــی‌گوره
د مینی خدای الره سجدو وخوږ م
د زمانی زړه کی په یاد به وی‌تل
زړگیه ستا ډیرو گیلو وخو ږم
غزل به ولیکم خو وبه وا یـــم
زه خپل قلم خپلو خیالو وخوږم

۱ر ۱ر ۱۳٦٦ ـ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

تاکه می په سترگو کی خوبونه څورول
مادی په سروشونډو کی لوزونه څورول
سره ښاخکی استازی دلیمو په اشارو
خود می په سروورینو کی زخمونه څورول
تارا ته بېودلی و جنون په یو نظر
ځکه می اوبښ خوب کی دیدنونه څورول
خال دی په تندی زما دوینردی کنه دی
ځکه می ناپامه شنه خالو نـــه څورول
ته شولی مغروره په خپل حسن باندی بیا
ما په تصور کی تصو یرونـــه څورول

۲ر ۲ر ۱۳۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو غزل د پلار او نـــوی استاد میر حمزه د ژوند داتیا وم
سپرلی د غوړیدو یاد ته

# دغزل پلاره !

یاد دزمانو شو لی حمزه شو لی
گل مو دشملو شو لی حمزه شولی
وخت که څورولی هیر یدی گله
ځای مو په لیمو شولی حمزه شولی
خیر دی‌که بابا شوی څه خبره‌ده
شان‌مودزلمو شولی حمزه شولی
حسن تخیل ته په سجده شولو
نازمو د سپر لو شولی حمزه شولی
نن اود سبا دامیدو گله
ویاړ د پرو نو شولی حمـــزه‌شولی
بڼ د تغزل ذ ه‌عقید ت گوره
پلار مود پښتو شو لی حمـزه‌شولی

۲٤ر ۱ر ۱۳٦٦ ـ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېغله غزل

نن چې مې سلګو کې میلمنه تو لې
ماته مې لیمو کې میلمنه شولې

داسې راته ښکارې چې آشنامې شوې
زما په اسویلو کې میلمنه شولې

سره خا لو نه ږده زما له وینو نه
اوس خو مې زخمو کې میلمنه شولې

پام ساته رقیب ته ! اشاري کوې
خیرې ګریوانو کې میلمنه شولې

ګوره چې نصیب سره هم جا مړنشې
بیا تشو پیالو کې میلمنه شو لې

پېغله شولې نا څه په نخروسره
خانده ښېښتنو کې میلمنه شو لې

۱۲ر ۱ر ۱۳۶۶ ـ لوګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وختونه او دردونه

وخته نیرنګو نو ازمو یاې یم
ستا ډیرو درد ونو ازمو یلـــې یم
اور کې سو ځید مه او خبر نه وم
زړه کې مې زخمونو ازمو یلـــې یم
لاره کې اغزو ځینې ګیله نــه کړم
زه غمجنو زړ ونو ازمو یلـــې یم
ځوان شومه خو تیرې مې پـه یاد شولې
حسنه تومتو نو ازمو یلې یم
سترګو ته دې ګور مه پوهیږمه
عشقه ستار ځونو ازمو یلـــې یم
نه ور ځم جنت له د زاهد پـه لار
ژوندمه دوز خونو ازمو یلـــې یم

۲۶ر ۱۰ ر ۱۳۵۹ ـ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

گران لوستونکی دی دکتاب ترلوستلو دمخه لاندی ناسمی ،سمی کړی .

| صفحه | کرښه | ناسم | سم |
| --- | --- | --- | --- |
| ٤ | ٣ | فکر اخیال | فکر اوخیال |
| ٦ | ٦ | گـه | گډه |
| ٦ | ١٤ | محتومو | محترمو |
| ١٥ | ٦ | که | کی |
| ٤٨ | ٢ | بهیرولو | بهیرونو |
| ٦١ | ١ | می | ه(اضافی) |
| ٦٢ | ١ | زه به سلامت | څه به ملامت |
| ٦٢ | ٨ | سخت | بخت |

PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU 7735

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ARIC Established 1989

## دشاعرپيژندنه :



محمد الله رازق په ۱۳۳۸ کال کې دپکتيا ولايت دزرمت د ولسوالۍ دزاړه کوهيۍ په کلي کې په يوه بزګره کورنۍ کې زيږيدلی دی.

لومړنۍ زده کړې يې دزرملي دلومړنۍ برخې په لومړنۍ ښوونځي کې پای ته ورسولې ، منځنۍ زده کړې يې دزرمت د شهيد حبيب الله زرمتي په ليسه کې پای ته ورسولې .

د ۱۳۵٦ کال په پای کې د کانکور ازموينې له تيرولو وروسته دکابل پوهنتون دطب په پوهنځي کې شامل او په ۱۳٦۳ کال کې له نوموړې علمي موسسې څخه بريالی راووت.

محمد الله رازق په ۱۳٦٤ کال کې دښارندوی په اکاډمۍ کې شامل او په همدې کال کې له نوموړې اکاډمۍ څخه فارغ او دښارندوی قواوو په يوه جګړه ييزه قطعه کې د روغتيايي چارو دمسوول په توګه وټاکل شو .

ډاکتر محمد الله رازق له ۱۳۵۲ کال راپدې خوا شعر وايي او دا يې دشعرونو لومړنۍ چاپي مجموعه ده چې ګرانو لوستونکي يې لولي .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**